سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۱/۰۵

# محشر

کتل د ښځې نر ته، لوی عصیان بلـلي شي
کـه نر زور وی ښـځه، قهرمان بللی شـي
چی بنده لور او خورکاندی دکور په دیوالو کی
دا نـښــه د غـیـرت او د ایمـان بلـلی شـــي
که ښځه برخه منه شی د لیک او لوست نه چیری
دا کار دین او مذهب ته بیا تاوان بـلـلی شي
که خرڅه د چا لور شوه په لکونو او کړونو
همدا سړی په سیمه کی بیا خان بللی شي
رواج دی پاتی شوی چی تابع ښځه د نر ده
حـاکم چی وی په ښـځه هغه ځوان بللی شي
حیران یم چی دا څنګه فیصله اوڅه دستوردی
چی مور ته سپک نظری هم انسان بللی شي؟
انصافه ته هم ړوند یی ورکه شوی درنه لار
تـیـری! چی عـدالـت او یا احسان بللی شي
محشر به نور لا څه وی کلیواله تر دی لوی؟
چی پلار ته پیداینت د لور خپګان بللی شی

مارچ/۹/۲۰۱۳
تورنتوــ کانادا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com